DA AFGHANISTAN BANK

# بانک The Bank

میاشتنی | Monthly | ماهنامه

۲۰۸ گڼه - ۱۴۴۶ جمادي الاول - ۱۴۰۳ لړم

# د افغانستان بانک په نوښت د ورو تمویلونو ملي کنفرانس جوړ شو






د اف پی کارت په درلودلو سره تاسې کولای شئ چې خپلې پیسې مو د صرافی له هر خپلکاره ماشین (ATM) څخه د کار له رسمي وخت څخه وروسته هم تر لاسه کړئ.




**د امتیاز خاوند: د افغانستان بانک**

**کتنپلاوی: فدا محمد فیضان، احمد جواد سداد او محمد ادریس رونق**

**سرلیکوال: شفیق الله بارز**



- د افغانستان بانک په نوښت د ملي او نړۍوالو ادارو په ګډون د وړو تمویلونو ملي کنفران... ۱
- رئیس کُل د افغانستان بانک در مجمع سالانه ایوفی و بانک توسعه اسلامی شرکت کرد ۳
- د افغانستان بانک مشرتابه پلاوي د یوناما له مشرې سره ولیدل ۴
- تورم جهانی: درس‌های برای سیاست‌های پولی ۵
- په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ د ودې په برخه کې ننګونې او حل لارې ۸
- نقش برگزاری نمایشگاه های صنعتی در رشد تولیدات داخلی ۱۲
- د برېښنايي اقتصاد پر لور د هند سفر ۱۵
- اقتصادي خبرونه ۲۱
- مؤثریت بودجه ریزی به اساس برنامه و عملکرد ۲۳
- DAB Governor Attends AAOIFI Annual Conference in Bahrain ۲۷
- DAB Holds National Conference on Microfinance ۳۱



**مسئول مدیر: انور الله حیات**

**خبریال: سید خالد خالقیار**

**ډیزاین خالد احمد فیضي**

**فوتوژورنالیست: زیرک ملیا**

**د وېش مسئول: نصرت الله احمدزی**

د چاپ شمېر: ۱۲۰۰ ټوکه

کال: اوولسم

پته: د افغانستان بانک

د ثبت ګڼه: ۶۵۸



ټلیفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

برېښنالیک: magazine@dab.gov.af

وېب پاڼه: www.dab.gov.af



۲۰۸



د مجلې د مقالو او انځورونو کارول د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.

استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.

# د افغانستان بانک په نوښت د ملي او نړۍوالو ادارو په ګډون د وړو تمویلونو ملي کنفرانس جوړ شو

۱۴۴۶ د جمادی الاول ۱۱ مه – د افغانستان بانک په نوښت د ملي او نړۍوالو ادارو د استازو، د بهرنیو هېوادونو سفیرانو او د ډله ایزو رسنیو د استازو په ګډون په کابل سرینا هوټل کې د وړو تمویلونو ملي کنفرانس جوړ شو.

د دې کنفرانس موخه د وړو تمویلونو د سکتور وده او پراختیا او د خصوصي او دولتي سکتورونو او ملي او نړۍوالو ادارو ترمنځ د همغږۍ او همکارۍ رامنځته کول وو، ترڅو په دې وسیله په هېواد کې د فقر کچه را ټیټه او د دندو د پیدا کېدو لامل شي.

د کنفرانس په پیل کې د افغانستان بانک د ټولو رئیس ښاغلي نور احمد آغا د کنفرانس ګډونوالو ته د ښه راغلاست ویلو او د منښې ترڅنګ یې د وړو تمویلونو پر اهمیت خبرې وکړې او زیاته یې کړه چې واړه تمویلونه مالي پانګې ته د اشخاصو او تشبثاتو د لاسرسي د برابرولو له لارې، د کاري فرصتونو د رامنځته کولو، د بې وزلۍ کمولو او د ټولنو د پیاوړي کولو په برخه کې بنسټیزه ونډه لري چې دا کار له یوې خوا د کوچنیو کاروبارونو او محلي تولیداتو د ودې لامل کېږي او له بلې خوا خلکو ته اقتصادي فرصتونه او عایداتي سرچینې برابروي.

ښاغلي نور احمد آغا د خپلو خبرو په بله برخه کې وویل چې د هېواد په اقتصاد کې د وړو تمویلونو د سکتور د اهمیت په پام کې نیولو سره، د افغانستان بانک د دې سکتور د کړنو د تنظیم او څارنې لپاره چارچوکاټ جوړ کړی دی چې اوس مهال د وړو تمویلونو مؤسسې کولای شي د فعالیت جواز ترلاسه کړي او د هېواد په اقتصادي وده او رغښت کې خپله ونډه ترسره کړي.

ورپسې، د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال قدرمن الحاج ملا عبدالغني برادر آخند د افغانستان بانک له رهبرۍ څخه د منښې کولو ترڅنګ د بانکي سکتور د اغېزناک مدیریت، مالي ثبات او د افغانۍ ارزښت ساتلو په برخه کې د افغانستان بانک د مشرتابه د معقولو پالیسیو ستاینه



وکړه او همدارنګه د دې کنفرانس پر اهمیت یې خبرې وکړې.

ښاغلي الحاج ملا عبدالغني برادر آخند وویل چې د بې وزلۍ او بیکارۍ کمول او د کاري فرصتونو رامنځته کول د افغانستان اسلامي امارت په مسؤلیتونو او لومړیتوبونو کې دي او دا چې د دې سکتور ګټه اخیستونکي عام خلک، بزګران، بېوزلي او د کوچنیو کاروبارونو خاوندان دي، د دې سکتور د پیاوړتیا لپاره اسلامي امارت او نړۍواله ټولنه ګډه موخه لري.

ښاغلي الحاج ملا عبدالغني برادر آخند د خپلو خبرو په بله برخه کې وویل، دولت ژمن دی چې دا سکتور پیاوړی کړي او د مالي تمویلونو سکتور د تنظیم او څارنې لپاره د مقرراتي چوکاټ جوړول یې د دې سکتور د پراختیا په برخه کې یو بنسټیز ګام یاد کړ.

د دې کنفرانس په دوام کې د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي مولوي امیر خان متقي د وړو تمویلونو د سکتور په وده کې د بهرنیو شریکانو د رول او اهمیت په اړه خبرې وکړې. وروسته، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سازمان د سرمنشي ځانګړې استازې آغلې روزا اوتونبایوا په نورو هېوادونو کې د وړو تمویلونو د سکتور پر رول او په افغانستان کې د وړو تمویلونو سکتور په برخه کې د نړۍوالې ټولنې او د ملګرو ملتونو د ادارو د همکاریو په اړه خبرې وکړې او زیاته یې کړه چې نړۍواله ټولنه او د ملګرو ملتونو اداري ژمنې دي چې د افغانستان د وړو تمویلونو سکتور د پرمختګ لپاره له کورنیو ادارو سره په ګډه همکاري وکړي. آغلې اوتونبایوا زیاته کړه چې نړۍوال بانک په افغانستان کې د وړو تمویلونو د پروژو پلي کولو لپاره ځانګړی پروګرام په پام کې لري او د ملګرو ملتونو د ګډونوالو او پناه غوښتونکو چارو اداره ژمنه ده چې د دې سکتور د پروژو په اړه خپل پلان پراخ کړي.

وروسته، د افغانستان د مالیې وزارت د پالیسۍ مرستیال ښاغلي انجینر سلطان محمد زبیر د دې سکتور لپاره د دولت د مالي سرچینو د کارولو او د صنعت او سوداګرۍ وزیر ښاغلي الحاج نورالدین عزیزي په بېلابېلو سکتورونو کې د وړو تمویلونو د سکتور د ملاتړ په موخه د لویو شرکتونو د رول په اړه په خپل وار خبرې وکړې.

د دې کنفرانس په بله برخه کې د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي صدیق الله خالد په افغانستان کې د وړو تمویلونو سکتور د فرصتونو او ننګونو په اړه هر اړخیز پریزنټېشن وړاندې کړ.

وروسته د شرایطو وړ شرکتونو ته د جواز ورکولو د مراسمو ترڅنګ د بېلابېلو ګردي میزونو (پینلونو) له لارې د بحث او خبرو اترو زمینه برابره شوه چې په دې کنفرانس کې د وزارتونو، خصوصي بانکونو او د ملي او نړۍوالو ادارو د متخصصینو، سلاکارانو او استازو ترمنځ د وړو تمویلونو سکتور په پیاوړتیا کې د شرکتونو، بانکونو او له هېواد څخه بهر سوداګرو د ونډې، د دې سکتور په پیاوړتیا کې د نړۍوالو مؤسسو پر رول او په هېواد کې د وړو تمویلونو د سکتور د فرصتونو او ننګونو په اړه بحثونه ترسره او نظرونه تبادله شول.

د دې کنفرانس جمع بندي د افغانستان بانک د ریاست د دفتر لوی آمر ښاغلي فدا محمد فیضان لخوا تر سره شوه. ښاغلي فیضان د ګډونوالو له ګډون او اغېزناکو نظرونو څخه د مننې ترڅنګ د وړو تمویلونو ملي کنفرانس د دې سکتور د پراختیا او ودې لپاره ګټور یاد کړ او زیاته یې کړه چې د افغانستان بانک به په خپل وار د وړو تمویلونو سکتور په پیاوړتیا کې اغېزناکه او دوامداره هڅې کوي.

# رئیس کُل د افغانستان بانک در مجمع سالانه ایوفی و بانک توسعه اسلامی شرکت کرد

هیئتی تحت ریاست محترم نور احمد آغا رئیس کُل د افغانستان بانک در نزدهمین نشست سازمان محاسبه و تفتیش مؤسسات مالی اسلامی (ایوفی) و بانک توسعه اسلامی که در کشور بحرین برگزار شده بود، شرکت کرد.

در این نشست که به تاریخ اول و دوم ماه جمادی‌الاول سال جاری، برابر با سوم و چهارم نوامبر ۲۰۲۴ میلادی برگزار شده بود، نزدیک به سه صد نماینده از بانک‌های مرکزی و بانک‌های تجارتی اسلامی کشورهای اسلامی شرکت داشتند.

محترم نور احمد آغا رئیس کُل د افغانستان بانک حین صحبت در بخش افتتاحیه این نشست بر اهمیت ایجاد نهادها جهت تنظیم بهتر امور مرتبط به زکات، وقف، انفاق و صدقه تأکید کرده و نقش این نهادها را در کاهش فقر و توزیع عادلانه ثروت در جامعه بسیار مهم دانست؛ وی همچنین درباره ممنوعیت بانکداری سودی و توسعه بانکداری اسلامی و ثبات نظام بانکی در افغانستان به شرکت‌کنندگان معلومات داد.

محترم نور احمد آغا همچنان از نهاد ایوفی، بانک توسعه اسلامی و سایر نهادهای مربوط در زمینه ظرفیت‌سازی، برنامه‌های آموزشی، مدیریت بهتر زکات و وقف، تبدیل بانک‌های سنتی به بانکداری اسلامی و ایجاد یک نظام مالی و اقتصادی حلال، باثبات، شفاف و قوی در افغانستان درخواست همکاری کرد.

# د افغانستان بانک مشرتابه پلاوي د یوناما له مشرې سره ولیدل

۱۴۴۶ ربیع الثاني ۲۶ مه – د افغانستان بانک د ټولو رئیس ښاغلي نور احمد آغا د ملګرو ملتونو سازمان د سرمنشي له ځانګړې استازې آغلې روزا اوتونبایوا او مل پلاوي سره وکتل.

په دې غونډه کې د افغانستان بانک د ټولو رئیس ښاغلي نور احمد آغا په هېواد کې د مالي او بانکي سکتور د وضعیت په اړه مفصلې خبرې وکړې. نوموړي زیاته کړه د افغانستان بانک ژمن دی چې په افغانستان کې مالي او بانکي سکتور ته وده ورکړي او په دې وسیله د هېواد په اقتصادي رغښت کې خپل مثبت رول ترسره کړي.

په یاده غونډه کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې آغلې روزا اوتونبایوا هم د هېوادونو په اقتصادي رغښت کې د مالي او بانکي سکتور وده او پرمختګ د ارزښت وړ یاد کړل او پدې برخه کې یې د همکارۍ ژمنه وکړه.

د یادونې وړ ده چې په دې غونډه کې د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي صدیق الله خالد هم ګډون درلود او د بېلابېلو مالي او بانکي موضوعاتو په اړه یې له راغلي پلاوي سره خبرې او د نظرونو تبادله تر سره کړه.



# تورم جهانی: درس های برای سیاست های پولی


افزایش تورم، پس از اختلال بی مانندی در اقتصاد جهانی رخ داد، ولی هنوز درس‌ها و عبرت های مهم و قابل توجه برای بانکهای مرکزی فراهم میکند. نرخ تورم در سه سال گذشته پس از وقوع اختلال در اقتصاد جهانی افزایش یافت.

در جریان قرنطین های ناشی از شیوع ویروس کرونا، مردم شروع به خرید کالاهای بیشتری به جای خدمات کردند؛ یعنی تقاضا برای بدست آوردن کالا، بیشتر افزایش یافت. در همان زمان، نرخهای پایین تکتانه نیز سطح تقاضا را بیشتر افزایش داده و بسیاری از شرکتها نتوانستند چرخه تولید را به سرعت به حرکت درآورند که در نهایت منجر به ناهماهنگی میان عرضه و تقاضا و افزایش قیمت ها در برخی از سکتورها گردید.

به عنوان مثال، ظرفیت بنادر تا حدودی به دلیل کمبود نیروی کار از اثر شیوع ویروس کرونا، به حد اعظمی خود رسیده بود و در برخی موارد از آن فراتر رفته بود. بنابر این، وقتی تقاضا برای کالاها بیشتر شد، این امر باعث گردید تا سفارشات به تأخیر بیفتند. وقتی دوباره بازارها و مغازه ها باز شدند، تقاضا برای خدمات به شدت افزایش یافت و حمله روسیه به اوکراین باعث افزایش قیمت کالاها گردید که به نوبه خود، تورم جهانی را به بالاترین سطح خود پس از دهه ۱۹۷۰ رساند.

**تورم کالاها سریعتر و بالاتر از خدمات به اوج رسید**

حد اوسط تورم سالانه بر اساس سکتور و فیصدی




منابع: سازمان همکاری و توسعه اقتصادی؛ تحلیل‌های هاور، صندوق بین المللی پول، دیتابیس شاخص سبد مصرفی (CPI)؛ اداره تحلیل اقتصادی امریکا؛ و محاسبات کارمندان صندوق بین المللی پول.

یادداشت: حد اوسط تورم کالاها، به استثنای مواد غذایی، انرژی و خدمات، بر اساس نمونه های از ۳۰ اقتصاد پیشرفته و ۱۳ اقتصاد بازار نوظهور. معلومات به عنوان انحرافات از حد اوسط ۲۰۱۹–۲۰۱۸ گزارش شده‌اند.

IMF


برای درک افزایش تورم جهانی در این اواخر، نیاز است تا فراتر از ارقام اقتصاد کلان سنتی نگاه کنیم. تحلیل‌های ما نشان می دهد که چگونه افزایش تورم در سکتورهای مشخص بر تورم کلی تأثیر گذاشته است، که معیاری پایدار تر است و غذا و انرژی را شامل نمی‌شود. بخش عمده ای تحلیل ما روی تعامل بین تقاضای روز افزون، کاهش تولید و شوک‌های خاص در سکتورهای مختلف تمرکز دارد. این عوامل باعث تغییرات بزرگ در قیمت های نسبی شد که منجر به وضعیتی گردید که در آن قیمت ها بصورت گسترده در هر جای متفاوت بودند.

زمانیکه عرضه بصورت چشمگیری کاهش یافت و گراف تقاضا بالا رفت، منحنی فیلیپس که معیار اصلی رابطه میان تورم و کساد اقتصادی (منابع استفاده نشده در اقتصاد) است، بارز تر شد و سیر صعودی را پیمود. سیر صعودی منحنی فیلیپس نشان داد که تغییرات نسبتاً کوچک در کساد اقتصادی میتوانند تأثیر زیادی بر تورم داشته باشند. این وضعیت هم خبرهای بد و هم خبرهای خوبی را به همراه داشت.

خبر بد این بود که تورم افزایش یافت زیرا بسیاری از سکتورها با محدودیت ظرفیت مواجه شدند. اما خبر خوب این بود که امکان

**تورم در سکتورهای مختلف در جریان افزایش اخیر بصورت چشمگیری متغیر بود**

تغییر در تفاوت قیمت های سکتوری بر اساس ربع و فیصدی




منابع: یوروستات؛ BLS؛ و محاسبات کارمندان صندوق بین المللی پول.

یادداشت: این شکل نشان‌دهنده ی حد اوسط انحراف قیمت‌های سکتوری است که از طریق تفاوت معیاری بین سکتوری شاخص قیمت تولیدکننده برای اروپا (اتحادیه اروپا، ناروی، بریتانیا) و امریکا سنجش شده است. خط سرخ، تفاوت معیاری ربعوار در سکتورهای PPI امریکا را نشان میدهد. نقطه های آبی تفاوت معیاری بین سکتوری یک کشور اروپایی را نشان میدهند و خط آبی نمایانگر نیمی از کشورهای اروپایی در هر ربع مشخص است.

IMF

کنترول تورم با مصرف کمتری از نظر کاهش تولید اقتصادی وجود داشت.

معلومات اخیر به ما تفهیم مینماید که در صورت مواجه شدن با افزایش کاهش گستردهٔ تقاضا، بانکهای مرکزی میتوانند به تعادلی مناسب دست یابند. در چنین مواردی، منحنی فیلیپس – که رابطه میان نرخ تورم و بیکاری را نشان می‌دهد – شیب‌دارتر می‌شود. به این معنا که سخت‌گیری در سیاست پولی (مانند افزایش نرخ تکتانه) می‌تواند تورم را به‌سرعت کاهش دهد، بدون اینکه مصارف زیادی برای تولید اقتصادی به همراه داشته باشد. اما وقتی که کاهش تولید به سکتورهای مشخص دارای قیمت های نسبتاً انعطاف پذیر، مانند کالاها، محدود شوند، ما درس مهمی را از گذشته به یاد میآوریم که تمرکز اصلی سیاست پولی را روی اقدامات تورم پولی قرار دهیم. متمرکز کردن بیش از حد سیاست در چنین مواردی میتواند نتیجه معکوس در پی داشته باشد و به

انقباض اقتصادی پر مصرف و تخصیص نادرست منابع منجر شود.
با توجه به این دیدگاه ها، چارچوب های سیاست پولی بانک مرکزی باید شرایطی را شناسایی کنند که افزایش نرخ تکتانه و اتخاذ سیاست های پولی معقول است. این امر، نیازمند مودل های بهبود یافته و معلومات بهتر در مورد سکتورها است تا فاکتورهای تورمی را ارزیابی نموده، پیشبینی ها را بهبود بخشیده و به نحوه پاسخگویی پالیسی‌ها کمک کند.
گام اولیه در مسیر درست این است که معلومات بیشتری را در باره قیمت ها بر اساس سکتورها و محدودیت های عرضه جمع آوری نماییم تا مشخص شود آیا سکتورهای کلیدی با چالشهای عرضه مواجه هستند یا خیر. همچنان، درک عوامل ساختاری مانند نحوه تعیین قیمت ها در سکتورهای مختلف و ارتباط آنها با یکدیگر میتواند اطلاعات مفیدی به ما بدهد.

چندین بانک مرکزی در نظر دارند تا در ماه های آینده چارچوب های پالیسی خود را بازبینی کنند. این بازبینی ها فرصتی را برای درج فقره‌های مشخص برای تنظیم بهتر سیاست ها در چارچوب های پولی شان فراهم می کند تا بتوانند با فشارهای تورمی در صورت شدید تر شدن منحنی های فیلیپس، مقابله کنند. راهنمایی آینده باید این فقره‌های مشخص برای تنظیم بهتر سیاست‌های پولی را در نظر بگیرد و به آن‌ها امکان دهد تا به سرعت برای تشدید سیاست ها اقدام کنند.
این انعطاف پذیری اضافی باید به بانک های مرکزی کمک کند تا در آینده، بهتر آماده باشند و اعتباری را که به سختی کسب کرده اند، حفظ نمایند.

ترجمه: سید آصف فکرت

نویسنده: جورج الوارز، البرتو مسو، جین مارک نتل و سیباستین ویند

---

منبع:

1-https://www.imf.org/en/BlogsArticles/2024/10/16/global-inflationary-episode-offers-lessons-for-monetary-policy



# په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ د ودې په برخه کې ننګوني او حل لارې

**پيژندنه:**

اسلامي بانکوالي د اسلامي شريعت پر بنسټ د بانکي خدمتونو وړاندې کولو ته وايي. د دوديزې بانکوالۍ په پرتله، اسلامي بانکوالي د ځينو ځانګړو اسلامي اصولو او قواعدو په رڼا کې پر مخ وړل کيږي؛ چې د هغې له جملې څخه د سود، قمار، او غَرر ممانعت؛ ګټې او خطر شريکول؛ او اخلاقي پانګونه د يادولو وړ دي.

د اسلامي بانکوالۍ عمده موخه د يو عادلانه، اخلاقي، او د شريعت سره موافق مالي نظام رامنځته کول دي. په اسلامي هيوادونو کې د مالي، اقتصادي او ټولنيزو غوښتنو د پراختيا له امله، اسلامي بانکوالۍ په وروستيو لسيزو کې د دوديزې بانکوالۍ د يوه بديل مالي نظام په توګه شهرت ترلاسه کړ. د يادولو وړ ده چې اسلامي بانکوالي په منځني ختيځ، سويل ختيځ، آسيا او شمالي افريقا کې د پام وړ وده کړې چې د اسلامي او غير اسلامي هېوادونو پانګوالو او بنسټونو ته يې د اسلامي بانکوالۍ د محصولاتو څخه د استفادې زمينه برابره کړې ده.



د یادونې وړ ده چې د اسلامي بانکوالۍ د ودې او پراختیا پر وړاندې یو لړ ننګونې او خنډونه اوس هم شتون لري؛ چې د هغو له جملې څخه د ماهر کاري ځواك کموالی او د شریعت سره سم د مالي محصولاتو متنوع کول او نور د یادولو وړ دي. البته، د مؤثرو حل لارو او نوښتونو په راوستلو سره یادې ننګونې د قوت په ټکو بدلېدلی شي.

- **د علماوو ملاتړ**

د اسلامي بانکوالۍ د ودې او پراختیا لپاره د علماوو ونډه خورا مهمه ده. علماء په دې برخه کې د شرعي اصولو او د اسلامي مالي قواعدو او اصولو (سود، قمار، غرر، ګټې او تاوان شریکول، د دوديزې بانکوالۍ شرعي متبادل او داسې نور) تشریح او تفسیروي؛ او همدارنګه علماء د منبر له لارې د اسلامي بانکوالۍ د ګټو او اهمیت په اړه ټولنې ته عامه پوهاوی هم ورکولی شي، ترڅو خلك د نوموړو خدماتو څخه آشنا او ور څخه ګټه واخلي.

- **د اسلامي بانکوالۍ په برخه کې د کافي مسلکي کسانو کموالی**

د اسلامي بانکوالۍ په برخه کې د متخصصینو کموالی په عمومي ډول د اسلامي بانکوالۍ مخې ته یوه بله ستونزه ده. په افغانستان کې ډیری دولتي او خصوصي بانکونه شتون لري خو د اسلامي بانکوالۍ په برخه کې د مسلکي کارکوونکو نشتون کولای شي د اسلامي بانکوالۍ د لا ډېرې ودې په برخه کې ستونزې رامنځته کړي.

- **د اسلامي بانکوالۍ د متنوعو خدمتونو کمښت**

د اسلامي بانکوالۍ په برخه کې د خدمتونو وړاندې کول یوه عمده ستونزه ده چې د اقتصادي او ټولنیزو پرمختګونو لپاره جدي ننګونه بلل کیږي او په ځانګړې توګه په پرمختللو هېوادونو او ځینو ټولنو کې خلك له ورته ستونزې سره مخ دي. د دې ستونزو د حل لپاره ممکنه لارې چارې کېدای شي د بانکي خدمتونو پراختیا، د مالي پوهې زیاتوالی، د ټکنالوژۍ کارول، د دولتي او خصوصي سکتور د همکارۍ زیاتوالی شامل وي.

- **د اسلامي بانکوالۍ په برخه کې د پیرودونکو اعتماد جوړول او ساتل**

افغانستان کې پر اسلامي بانکوالۍ باندې د پیرودونکو باور رامنځته کول او ساتلو کې د شریعت اصولو ته په کلکه درناوی او د باور وړ مالي خدمتونو چمتو کول شامل دي. د اسلامي بانکوالۍ په برخه کې د پیرودونکو اعتماد جوړول او ساتل د دې لپاره اړین دي چې بانکونه د شریعت د اصولو سره سم عمل وکړي او د خپلو پیرودونکو سره ښې اړیکې ټینګې کړي.

- **د مقرراتي ظرفیت کمښت**

د اسلامي بانکوالۍ په برخه کې د مقرراتي ظرفیت کمښت د یوې مهمې ستونزې په توګه مطرح کیږي چې دا د ودې او پرمختګ لپاره یو خنډ دی. د اسلامي بانکوالۍ لپاره د متغیرو اقتصادي شرایطو او له وخت سره سم د مقرراتو بدلون ته اړتیا ده. که چیرې د مقرراتو د بدلون لپاره مناسبه غوښتنه نه وي، د صنعت پرمختګ ممکن محدود پاتې شي.

- **د اسلامي مالي محصولاتو کمښت**

هغه اسلامي مالي محصولات(مرابحه، مضاربه او اجاره) چې د اسلامي بانکوالۍ تر چتر لاندې ترې استفاده کيږي د اسلامي بانکوالۍ او مالي سيستم د پراختيا لپاره بسنه نکوي، چې دا يوه لويه ستونزه بلل کيدای شي. د دې لپاره بايد د پيرودونکي اړتياوې او غوښتنې وپيژندل شي تر څو د هغوی د اړتياوو سره سم نوي محصولات وړاندې شي. د نړۍ د ځينو برخو شواهد ښيي چې د پېرودونکو د رضايت اړوند فاکتورونه لکه د خدماتو کيفيت، عادلانه چلند، د محصولاتو پوهه او د خپلو مالي اهدافو ترلاسه کولو لپاره د وړانديزونو متنوع لړۍ په پام کې نيول کيږي.

**وړانديزونه او سپارښتنې**

په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ لپاره د اوسنيو ننګونو پر بنسټ، لاندې سپارښتنې وړانديز کيږی:

۱- د اسلامي بانکوالۍ د يوه هر اړخيز قانوني سيستم رامنځته کول؛

۲- د سوداګرۍ او پانګونې لپاره د مناسب چاپيريال رامنځته کول؛

۳- د اسلامي بانکوالۍ او اسلامي مالي چارو د عامه پوهاوي د لوړولو لپاره د ورکشاپونو، روزنيزو پروګرامونو او معلوماتي غونډو ترسره کول؛

۴- د اسلامي بانکوالۍ په برخه کې د بشري سرچينو د ظرفيت لوړولو لپاره په پوهنتونونو او مسلکي پراختيايي مؤسسو کې لنډ مهاله او اوږد مهاله پروګرامونه ترسره کول؛

۵- د اسلامي بانکوالۍ په اړه د لوړني عامه پوهاوي لپاره د پوهنې وزارت له لوري د ښوونځيو په نصاب کې د اسلامي بانکوالۍ اړوند د بنسټيزو او عمومي معلوماتو اضافه کول؛

۶- د افغانستان بانک، دولتي او سوداګريزو بانکونو له لوري د بروشرونو، بلبورډونو او نشراتو له لارې د عامه پوهاوي کچه لوړول

۷- د افغانستان بانک له لوري د اسلامي بانکوالۍ سکتور د ودې لپاره يو اغيزمن ميکانيزم جوړول؛

۸- د دولت له لوري د اسلامي بانکوالۍ او دوديزې بانکوالۍ د مسائلو لکه؛ د اسلامي ارزښتونو او شريعت پر بنسټ د يوه مالي او بانکي نظام جوړول او د بازار د ستراتيژۍ جوړولو په اړه څېړنيز مرکزونه جوړول؛

۹- د اسلامي بانکوالۍ له لوري د بازار د خلاء هر اړخيز تحليل او د شريعت سره موافق محصولات په پراخه کچه معرفي کول؛

۱۰- هغه محصولات چې د بشپړ اسلامي بانکونو او يا په بانکونو کې د اسلامي بانکوالۍ دريځو لخوا رامنځته شوي، په بشپړه توګه بايد د ټولنې اړتياوې پوره کړي. سربيره پر دې په فعاله توګه اسلامي امارت د مالي محصولاتو متنوع کېدو لړۍ د ټولنې اړتياوو پوره کولو لپاره چمتو کړی.

**پايله**

د افغانستان د اقتصادي سيستم د ودې لپاره د ذکر شويو ننګونو د حل کولو په موخه اصلاحاتو، نوښتونو، همکاريو، او هر اړخيزې

همغږی ته اړتیا ده. د دې سکتور د پرمختګ لپاره دا مهمه ده تر څو یو هر اړخیز بانکي قانوني چوکاټ رامنځته، د مالي محصولاتو کچه پراخه او پیرودونکو ته د عامه پوهاوي لړۍ چټکه شي. همداراز، د اقتصادي ثبات لپاره د مناسبو حل لارو رامنځته کول، د دولتي او غیر دولتي سکتورونو تر منځ د همکارۍ او همغږۍ زیاتوالی ضروري دی. د دې اقداماتو په ترسره کولو سره، اسلامي بانکوالي کولای شي په افغانستان کې د اقتصادي او ټولنیزو پرمختګونو لپاره مؤثره ونډه ادا کړي.

لیکونکی: ګل محمد نوري


د مالي ثبات ارشد مدیر، د افغانستان بانک د بانکي او مالي خدمتونو د څارنې لوی آمریت

---

**References**


1. Salim, M. S., & Qoyum, A. (2021). Factors delaying the establishment of the Islamic banking system in Afghanistan. *International Journal of Advanced Academic Studies*, *3*, 412-18.
2. Omar, Zabihullah, and Vikas Tyagi. "A review on Analysis of the flow of Islamic banking and economic growth in Afghanistan." *International Research Journal of Engineering and Technology (IRJET)* 8 (2021): 709-13.
3. Hoque, M. E., Kabir Hassan, M., Hashim, N. M. H. N. & Zaher, T. (2019). Factors affecting Islamic banking behavioral intention: the moderating effects of customer marketing practices & financial considerations. *Journal of Financial Services Marketing, 24*(1), 44–58.
4. Askarzada, A. R. (2018). İslamic vs. Conventional Banking in Afghanistan. *Conventional Banking In Afghanistan (December 14, 2018)*.
5. Arslan, E., Bora, A., & Amanat, A. H. (2020). Comparative Analysis of Conventional and Islamic Banking: The Case of Bakhtar Bank Transforming into Islamic Bank of Afghanistan. *Yönetim ve Ekonomi Dergisi*, *27*(3), 479-493.
6. Rostan, P., Alami, S., Mohammad, E., Rahmani, A., & Azizi, S. (2021). Challenges of islamic banking in least developed countries: the case of Afghanistan. *JOEEP: Journal of Emerging Economies and Policy*, *6*(Özel Sayı), 5-19.
7. Schottmann, S. A. (2014). From duty to choose: marketing Islamic banking in Malaysia. *South East Asia Research*, *22*(1), 57-72.
8. Rostan, P., Alami, S., Mohammad, E., Rahmani, A., & Azizi, S. (2021). Challenges of islamic banking in least developed countries: the case of Afghanistan. *JOEEP: Journal of Emerging Economies and Policy*, *6*(Özel Sayı), 5-19.
9. Sadat, M., Rostamian, M., & Singh, D. Potential of Islamic Finance Development in Afghanistan: How Can Islamic Banking Contribute?

# نقش برگزاری نمایشگاه های صنعتی در رشد تولیدات داخلی



نمایشگاه یک مکان وسیع جهت ارایه و تبادل اطلاعات نوین، نو آوری ها، حرکت به سوی یک مسیر اقتصاد باز و رو به رشد اقتصادی، زمینه ساز برای گسترش صادرات، توجه همه جانبه به خواسته ها، علایق و سلایق مشتریان، ارزیابی دقیق و به موقع از بازار های مختلف تکنالوژی روز دنیا و تلاش جهت دستیابی و رقابت با آنها، آگاهی از پدیده های نوین علم و صنعت و یک فضای مناسب سازمان یافته و هماهنگ برای به نمایش گذاشتن توانمندی ها و قابلیت های فنی و نمایش از آخرین مجموعه دستآورد های تولیدی، ارایه خدمات، نمایش اختراعات و یک نوع ارتباط مستقیم و مؤثر با مشتریان، فعالان مختلف صنعت و اقشار مختلف جامعه معمولاً در یک محیط فرهنگی میباشد. همچنان نمایشگاه به عنوان یک سیمینار آموزشی و محل مناسب برای تبادله اطلاعات علمی و تحقیقی، تجاری و نیز رقابت بین شرکت های مختلف نقش مهم و کلیدی را دارد.

همین موضوع باعث میشود تا عرضه کنندگان و بازدید کنندگان با هم روبرو شوند و شرکت های مختلف با یکدیگر به رقابت بپردازند. تولید کنندگان در رقابت با محصولات شرکت های رقیب به نقاط ضعف خویش بیشتر متوجه شده و در جهت رفع یا کم کردن نواقص و بهبود بخشیدن محصولات خویش تلاش می

نمایند.

در کُل، نمایشگاه های داخلی و بین المللی یک محل مناسب برای تبلیغات زندهٔ کسب و کار در زمینه های مختلف مانند تولیدات اجناس و خدمات، فرهنگ، تاریخ، تکنالوژی، طبیعت، اطلاعات علمی، گردشگری و شاخه های بسیار دیگر است.

**اهداف اصلی برگزاری نمایشگاه ها:**

برگزاری نمایشگاه ها می تواند نقش خوبی در معرفی محصولات و ارتباط تولید کنندگان و ارائه کنندگان خدمات با مشتریان داشته باشد و در نتیجه موجب اعتماد مشتریان و بهبود بازاریابی و بالا رفتن میزان فروش میشود. اهداف کُلی که معمولاً در برگزاری اغلب نمایشگاه ها به آن پرداخته می شود عبارتند از معرفی و در معرض دید قرار دادن محصولات از قبیل کالاها و خدمات به مشتریان، آشنایی با بازار رقبا و پیشرفت آنان، سنجش کیفیت محصولات با مطالعهٔ خواست مشتریان، آشنایی با سایر تولید کنندگان و ارائه کنندگان خدمات که موجب فراهم کردن شرایط برای یافتن بازار محصولات اولیه برای تولیدکنندگان میشود که در نتیجه موجب فروش بیشتر و مفاد زیاد تر میشود.

همچنان، ارایه خدمات بهتر به مشتری در قالب غرفه سازی، ایجاد رقابت سالم بین واحد های تولیدی و صنعتی، آزمایش واکنش بازار در رابطه با کالاهای جدید، شرح دادن ویژگی صنعتی و اقتصادی کشور ها برای افراد بازدید کننده، کسب نمودن آگاهی در مورد ذوق و پیشنهاد مشتری در رابطه با محصولات جدید شرکت، بستن قرار داد تجاری جدید و گسترش بازارهای صادراتی و فروش داخلی، دسترسی پیدا نمودن به پژوهش های علمی و تکنالوژی روز دنیا برای صنعتگران و برنامه ریزان، آشنایی بازدید کنندگان با کالاها و تکنالوژی جدید و انتخاب برترین آنها و غیره موارد از جمله سایر اهدافی هستند که برگزار کنندگان و شرکت کنندگان برای خود می داشته باشند.

**اهمیت برگزاری نمایشگاه ها:**

نمایشگاه خصوصاً در بخش صنایع به عنوان یک رسانه مجموعهٔ تأثیرگذار برای شرکت ها، متخصصان و کارشناسان صنعت محسوب میشود چرا که از طریق شرکت در برنامه های نمایشگاهی می‌توانند نسبت به اشتراک گذاری فناوری های جدید و اطلاعات اقدام کرده و برای ایجاد روابط تجاری طولانی مدت با سایر فعالان در بازارهای داخلی و جهانی تلاش نمایند. شرکت کننده گان میتوانند در مورد دستآورد های داخلی تخصصی مورد نیاز کشور شان مطلع شوند و زمینه های واردات و خروج سرمایه از کشور را محدود سازند و با دسترسی به بازار های داخلی به سرمایه گذاری در کشور اقدام نمایند. در چنین حالت، راه برای حضور نخبگان علمی و صنعتی کشور باز خواهد گردید و این موضوع می‌تواند سطح علمی و صنعتی کشور را به میزان قابل توجهی افزایش دهد.

از طریق نمایشگاه های بین المللی صنایع، امکان بازاریابی محصول در سطح بین المللی، فروش مستقیم کالاها و خدمات، تبلیغات در سطح وسیع و همچنین فروش غیر حضوری خصوصاً برای مشتریان و بازارهای مصرف کننده امکان پذیر خواهد بود. اگر بخواهیم اهمیت برگزاری نمایشگاه های صنایع را در یک جمله کوتاه بیان کنیم باید گفت که؛ در راستای بازارهای جدید و نوظهور صنایع، نمایشگاه ها یک محرک اصلی برای توسعهٔ صنعتی و تجاری در بازار های

داخلی و بین المللی محسوب می شود.

## نقش نمایشگاه ها در توسعهٔ کسب و کار و فروش محصولات:

در حال حاضر یکی از مهمترین مشکلاتی که بسیاری از شرکت ها و فعالان حوزه های مختلف صنعت با آن مواجه هستند این است که فاصله میان تولید کنندگان و مصرف کنندگان به طرز چشمگیر و نگران کننده ای افزایش یافته است. این دو گروه ارتباطات محدود تری با یکدیگر داشته و همین عامل موجب افزایش بی رویهٔ قیمت محصولات و خدمات شده است که نتیجهٔ این کار جز نارضایتی مشتریان، کاهش فروش و رکود تولید نمیباشد.

نمایشگاه ها با تأمین یک فضای گستردهٔ حرفه ای و کاملاً دوستانه زمینه را به گونه ای فراهم می کند که تولید کنندگان و مصرف کنندگان را در شرایط مناسب بازار روز در یک مکان منظم و برنامه ریزی شده با یکدیگر مرتبط میسازند.

نمایشگاه یک ابزار تبلیغاتی قدرتمند و قوی محسوب میشود که تأثیر زیادی در ترویج محصولات و معرفی خدمات شرکت ها به بازدید کنندگان دارد و باعث ایجاد شناخت از مزایا و ویژگی های محصول، نیازها، ذایقه و سلایق مشتریان میگردد. نمایشگاه ها وسیله ارتباط مستقیم میان مشتری با تولید کنندگان کالاها و ارایه کنندگان خدمات میباشد که سبب کاهش بسیاری از هزینه ها شده رضایت مشتری را فراهم میسازد و در نهایت باعث نفع تولید کننده و مصرف کننده میگردد.

حضور در نمایشگاه ها فرصت خوبی است که می تواند نمایانگر پیشرفت علمی، اقتصادی، فنی، صنعتی و فرهنگی کشور باشد. اگر قرار باشد دوره ای از رونق و رشد اقتصادی را تجربه کنیم، از مهمترین شاخص های این رونق میتواند نمایشگاه های پرُ رنگ و رقابتی باشد که این عمل در نهایت به عاملی جهت رشد اقتصادی، کاهش بحران بیکاری، افزایش کیفیت کالا های داخلی و توجهٔ هرچه بیشتر مصرف‌کنندگان به تهیه کالا ها و نتیجتاً به توسعهٔ اقتصادی کشور منجر خواهد شد.

نویسنده: محمد مصطفی رسولی
موقف: اقتصاد دان ساحوی زون شمال
آمریت عمومی سیاست پولی

---

منابع:

1. مصاحبه با برگزار کنندگان و شرکت کنندگان نمایشگاه صنایع دستی و تولیدات داخلی تحت نام ام البلاد که به تاریخ ۱۶ دلو ۱۴۰۲ در ولایت بلخ برگزار گردیده بود. و سایت https://www.avapress.com که محتویات نمایشگاه متذکره را به نشر سپرده
2. نقش نمایشگاه ها در رونق اقتصادی https://www.asianews.ir
3. نقش نمایشگاه در رونق اقتصاد کشور https://www.eghtesadonline.com
4. نمایشگاه ها، اهداف، ویژه گی ها، برنامه ریزی و اقدامات https://stand-co.com

# د برېښنايي اقتصاد پر لور د هند سفر

**(دا مقاله د هارورډ بزنس ريويو له ويبپاڼې څخه ژباړل شوې ده.)**

د ۲۰۱۶ کال د نومبر پر ۸ مه د هند دولت پرېکړه وکړه چې د پیسو له ګردښت څخه ۸۶ سلنه بانکنوټونه بهر کړي. له يادې پرېکړې څخه وروسته، د څو مياشتو په موده کې له يو ميليارد څخه زياتو خلکو د هېواد د مالي او پولي سيستم په ريبوټ (نوي بدلون) کې برخه واخيستله.

له يادې پرېکړې څخه وروسته، د راغلي بدلون په اړه يو لړ بحثونه را پورته شول. ځينو خلکو ياد بدلون يو ناورين وباله، خو ځينو بيا دا کار د هند د برېښنايي بدلون په برخه کې يو تاريخي پړاو په ګوته کړو. له ګردښت څخه د کاغذي پيسو له نا څاپي ايستلو مخکې، د ۲۰۱۶ کال په اوږدو کې د دولت د ادايېنو سيستم پرانيستل شو چې دې سيستم په هره مياشت کې ۱۰۰،۰۰۰ معاملې پروسس کولې. له ګردښت څخه د کاغذي پيسو له نا څاپي ايستلو څخه يو کال وروسته، ياد سيستم په هره مياشت کې ۷۶ ميليونه معاملې پروسس کړې. د هند د ماليې وزارت د راپور له مخې، له ګردښت څخه د کاغذي پيسو له نا څاپي ايستلو څخه د مخکې په پرتله، اوس مهال د هېواد په اقتصاد کې د نغدي معاملو کچه د ۴۵ ميلياردو ډالرو په ارزښت راکمه شوې ده. د هند برېښنايي زيربناوې عملي ښه غوره کوي چې د پاليسۍ او ټکنالوژيکي نوښت ترکيب په کې مهم رول لوبوي چې په پايله کې يې هېواد په چټکۍ سره د برېښنايي اقتصاد پر لور ګامونه پورته کوي.

له ګردښت څخه د کاغذي پيسو بهر کول د هند د دولت

یوازینی اقتصادي پربکړه نه ده. سربیره پر دې، د هند دولت په پراخه کچه مالیاتي سمونونه راوستل لکه؛ د توکو او خدمتونو له یوې واحدې مالیې (GST) سره د ۱۷ بېلابېلو مالیاتو د یوه پیچلي سیستم تعویضول. نو حقیقت دا دی چې د توکو او خدمتونو د مالیاتي سیستم له پرانیستې څخه وروسته، په لومړۍ میاشت کې له یو میلیون څخه زیاتې سوداګرۍ په یاد سیستم کې ثبت شوې دي. د یاد سیستم له پلي کېدو څخه وروسته، یوازې په څو اونیو کې د روڼتیا زیاتوالی او د برېښنایي معلوماتو شتون چې د توکو او خدمتونو د مالیې اړینه برخه جوړوي، د کوچنیو او منځنیو سوداګریو لپاره د پور ورکولو نوې سرچینې رامنځته کړې. خو له دې ستونزو سره سره بیا هم له لسیزو څخه وروسته د مالیاتي قوانینو او اصولو د اصلاح کولو په یوې پروسې باندې کار روان دی.

**په یوه اقتصاد کې برېښنایي بدلون څرنګه رامنځته کیږي؟**

د برېښنایي بدلون ګټې د دولتي خدمتونو په وړاندې کولو کې سمدلاسه نه محسوسیږي، خو په حقیقت کې، د برېښنایي بدلون ګټې په اوږد مهاله توګه ډېرې زیاتې دي، خو لګښتونه یې په لنډ مهال کې واقع کیږي. همدا لامل دی چې په عمومي توګه ټکنالوژیکي نوښتونه او بدلونونه د ټولنې د عادي وضعیت سره په ټکر کې وي، ځکه چې ځینې یې د بدلون په پایله کې زیانمن کیږي. له همدې امله، د نوښتونو او بدلونونو د لنډ مهاله پایلو په اړه بحث کول، په لویه کچه ټکنالوژیکي نوښتونه له پامه غورځوي. دا عمومي موضوع په ځانګړي ډول له ګردښت څخه د کاغذي پیسو په ایستلو او د توکو او خدمتونو د مالیې په پلي کولو کې هم صدق کوي؛ دغه تګلارې د اوږد مهاله او متحرکو اغیزو د لرلو په موخه ترتیب شوې دي. حال دا چې له ګردښت څخه د کاغذي پیسو د ایستلو په پایله کې د برېښنایي مالي خدمتونو په کارونه کې چټک زیاتوالی او همداراز د مالیاتي قوانینو او اصولو د اصلاح کولو په پایله کې کوچنیو سوداګریو

ته په پور ورکولو کې زیاتوالی د ډېرو بهرنیو څارونکو لپاره د حیرانتیا خبره وه، خو دا دواړه د پالیسی ناڅاپي او غیر اختیاري پایلې نه وې. یادې تګلارې د هند د برېښنایي سیستمونو او زیربناوو د ودې په موخه ترتیب شوې دي.

دا برېښنایي زیربناوې او سیستمونه د عامه تګلارې پر ځای د سافټویرونو د پراختیا په پایله کې ترتیب او رامنځته کیږي چې د هند سټیک "India Stack" په نامه یادیږي. د سافټویرونو په نړۍ کې "Stack" د بېلا بېلو او یو له بل سره تړلو سافټویرونو او ټکنالوژیکي چوکاټونو ټولګې ته ویل کیږي. "هند سټیک" له بېلابېلو برخو څخه جوړ شوی دی چې هره برخه یې د دولتي خدمتونو له یوې ځانګړې ساحې سره تړاو لري. دا د برېښنايي پېژندنې یو ملي سیستم دی چې په ټوله کې د ځانګړې پېژندنې (Unique Identification) سیستم په نوم یادیږي، خو دا سیستم په هند کې ډېری وخت د خپلې پروژې (Aadhaar) په نامه یادیږي.

په ټوله کې د دولت لخوا د برېښنایي ټکنالوژۍ او نوښتونو د پلي کولو چټکتیا د خصوصي سکتور لخوا د برېښنایي ټکنالوژۍ او نوښتونو د پلي کولو د چټکتیا په پرتله کمه ده. د هغو سیستمونو له ډلې چې له ۱ میلیارد څخه زیات کاروونکي لري، ډېری یې په متحده ایالاتو کې د خصوصي سکتور د هڅو په پایله کې رامنځته شوي دي، چې فېسبوک او ګوګل یې ښې بیلګې دي. سربېره پر دې، یوه استثنا او ښه بیلګه یې په هند کې د آدهار کاریدونکی سیستم دی چې په ګڼ شمېر هندي ژبو کې د "بنسټ" معنی لري.

باید وویل شي چې آدهار یوازینی غیر امریکایي نړۍوال تخنیکي سیستم دی چې له ۱ میلیارد څخه زیات کاروونکي لري او همدارنګه دا یوازینی سیستم دی چې د عامه سکتور لخوا جوړ شوی دی. دا چې "آدهار" د عامه سکتور لخوا جوړ شوی دی نو دا یوه نادره ځانګړتیا ده، یاد سیستم دا امتیاز لري چې تر

ټولو په چټکه توګه ۱ میلیارد کاروونکو ته ورسیږي. سربېره پر دې، هغه خدمتونه چې د متقابل عمل له لارې د آدهار پر بنسټ جوړ شوي دي د هند "سټیک" تعریفوي او همداراز د حجم او ساحې له پلوه بې ساري دي.

هند په ۲۰۰۹ میلادي کال کې هر هندي ته د بایومیټریک تصدیق شوې ۱۲ عددي شمیرې په توګه د یوې ځانګړې برېښنایي پېژندنې په ورکولو سره، آدهار سیستم ته عملي اړخ ورکړ. ځانګړې برېښنایي پېژندنه د ملي سیستم د بېلا بېلو ټکنالوژیو د ترکیب په پایله کې داسې یو سیستم جوړ کړی چې د غوښتونکو د بایومیټرک معلوماتو، د ګوتو د چاپونو او د هغوی د سترګو د رنګه برخو (Iris) سکینونو د تکرار د مخنیوي پر بنسټ یوه ځانګړې شمېره تولیدوي. د آدهار سیستم د کارونې په لومړیو پنځو کلونو کې، له ۶۰۰ میلیونه څخه زیاتو خلکو په خپله خوښه په یاد سیستم کې ځانونه ثبت کړي او د ځانګړې پېژندنې شمېرې یې ترلاسه کړي دي. د آدهار سیستم د پلي کولو په لومړیو پړاوونو کې د یوه خورا بریالي یا اغېزناک اپلیکېشن لټون چې وکولای شي د آدهار سیستم رښتینی ارزښت او اغېزمنتیا وښیي، یوه ننګونه وه. حال دا چې د پېژندنې د تصدیق وړتیا برېښنایي وه، خو بانکي حسابونه او د اداینو سیستمونه لاهم د کاغذي پروسو پر بنسټ تر سره کېدل، پدې معنی چې د خپلو پېرودونکو د پېژندنې په موخه یې جلا او سختو کړنلارو ته اړتیا لرله. له همدې امله، د هند د وګړو یوه لویه برخه د بانکي خدمتونو او د هغوی له اړوندو ګټو څخه بې برخې پاتې وه.

کله چې په ۲۰۱۴ کال کې نریندرا مودي واک ته ورسید، نوموړي په خپلو پلانونو کې برېښنایي بدلون ته لومړیتوب ورکړ. له همدې امله، مودي نه یوازې د پخواني حکومت لخوا د جوړ شوي سیستم ملاتړ وکړ، بلکې د یاد سیستم ساحه او تمویل یې په پراخه کچه زیات کړ او تر ټولو مهمه دا چې د نوموړي سیستم اغېزو ته یې پراختیا ورکړه.

**په مالي شمولیت کې د ټکنالوژۍ کارول**

د ۲۰۱۴ کال د اګست په ۲۸مه نېټه، د مودي حکومت د پردهان منتري جان – دان یوجنا د مالي شمولیت پروګرام پیل کړ. د یاد پروګرام د پلي کولو په لومړۍ ورځ، حکومت د پېرودونکو د جلبولو اړوند په ډېرو کمو لګښتونو سره، د کاغذي پروسې له کارولو پرته د اوسني آدهار سیستم د پېژندنې (Ids) په کارولو سره ۱۰ میلیونه بانکي حسابونه جوړ کړل. له هغه وخت راهیسې، حکومت له ۳۰۰ میلیونو څخه زیات نوي، صفر بیلانس لرونکي او له اسمي لګښتونو پرته بانکي حسابونه جوړ کړي دي. له وړیا او صفر بیلانس حسابونو سربیره، جان دان د حساب لرونکو لپاره د ۵,۰۰۰ هندي روپیو (۸۰$) د اضافه برداشت د آسانتیا تر څنګ د ۱۰۰,۰۰۰ هندي روپیو (شاوخوا ۱,۵۰۰ ډالر) د ټکر بیمې پوښښ هم وړاندې کوي، چې دا کار په رسمي بانکي سیستم کې د شمولیت لپاره د خلکو د هڅولو په موخه ترسره کیږي.

د بایومیټریک له لارې د تائید وړ پېژندنې شمیرې او د بانکي حساب په درلودلو سره د خدمتونو په سټیک کې د یوې بلې ځانګړنې د شاملیدو احتمال هم رامنځته کړ، چې هغه د موبایل له لارې اداینې دي. د برېښنایي پېژندنې او بانکي حسابونو په درلودلو سره، په هند کې سلګونه میلیونه خلک چې د حکومتي خدمتونو مستحق وو، ناڅاپه یې د دې وړتیا وموندله چې یاد خدمتونه په بشپړه توګه د برېښنایي سیستمونو له لارې ترلاسه کړي. په هند کې د جام د درې ګوني ترکیب ( JAM: Jandhan Aadhaar and Mobile) اصطلاح برېښنایي زیربنا ته اشاره کوي چې درې مهم عناصر یو له بل سره نښلوي: جان دان (د ټیټ لګښت بانکي حسابونه)، آدهار (د ځانګړې پېژندنې سیستم) او موبایل شمېرې. د هند سټیک څلور برخې لري: د پېژندنې برخه، د سندونو برخه، د اداینو برخه او د مالي معاملو برخه.

د دې بدلونونو اړوند انساني اغېزو باندې د پوهېدو لپاره د هند په يوه کلي کې د يوې مور ستونزې ته پام وکړئ، نوموړې د حکومتي سبسايډۍ (مرستې) مستحقه ده، تر څو خپلې دوه لوڼې ښوونځي ته واستوي. د يادې مرستې د ترلاسه کولو په موخه، هغه اړ وه چې د خپلو لوڼو د شتون د تائيد په موخه يوه فورمه ډکه کړي، بيا به يې دا فورمه په ښوونځي کې تائيدوله او بيا به يې هغه فورمه يو حکومتي دفتر ته وړله. فرض کړئ که چيرې د فورمې په پروسه کې ځنډونه يا ستونزې نه واى (چې دا يوه غير حقيقي فرضيه ده)، نو مور به بيا انتظار کاوه چې فورمه د سيستم له اړوندو چينلونو تېره او بيا به نوموړې ته د هغې له اړوندې مرستې سره سم چک ورکول کېده. د چک د ترلاسه کولو په موخه هغه اړه وه څو يو دولتي دفتر/ادارې ته مراجعه وکړي. که په دفتر کې فساد موجود واى، نو مخکې له دې چې نوموړې خپل چک ترلاسه کړى واى، هغه اړه وه چې د ټول مبلغ له ۱۵ سلنې څخه تر ۲۰ سلنې پورې نغدې پيسې يې د بډې په توګه ورکړې واى. بيا نوموړې اړه وه چې د چک په نغدو پيسو د بدلولو لپاره يو بانک ته مراجعه کړې واى. په پاى کې، له هغو ۲,۰۰۰ روپيو څخه چې هغه يې مستحقه وه، شاوخوا ۱,۴۰۰ روپۍ به يې ترلاسه کړې وې.

که مور د هند سټيک په کارولو سره، ورته وضعيت په پام کې ونيسو، مور کولاى شي د خپلو لوڼو د ښوونځي په دفتر کې د خپل آدهار شمېرې په کارولو سره د ټابليټ يا موبايل له لارې د خپل هويت تصديق وکړي. د حکومتي مرستې د پروګرام لپاره د هغې وړتيا لا د مخه په سيستم کې شته او اوس مهال د هغې د آدهار شمېره د صفر بيلانس له بانکي حساب سره چې د جان دان مالي شموليت پروګرام پر بنسټ هغې ته ورکړل شوې، تړل شوې ده. له ۲۴ څخه تر ۴۸ ساعتونو پورې به ياده ميرمن د خپل ټيليفون له لارې دا خبرتيا ترلاسه کوي چې بشپړ مبلغ (۲,۰۰۰ روپۍ) د هغې بانکي حساب ته وليږدول شوې.

د ګڼ شمېر نورو پروګرامونو له لارې، د هند "سټيک" د حکومتي خدمتونو په وړاندې کولو باندې يو ډول بدليدونکى اغېز لري او په ځانګړې توګه د تقاعد او د پخلي ګاز د چمتو کولو او همداراز د وګړو د تجربې د کيفيت او د حکومت د اغېزمنتيا په برخو کې د پام وړ لاسته راوړنې لري. يوازې د پخلي ګاز په پروګرام کې، له ۲۰ ميليونو څخه زياتو خلکو په خپله خوښه هغه ګټه چې مخکې يې غوښتې وه، خو مستحق يې نه وو، پرېښې. اوس مهال له ۲۵ ميليونو څخه زياتې کورنۍ د پخلي ګاز او حکومتي مرسته مستقيماً د خپلو بانکي حسابونو له لارې ترلاسه کوي، دا ځکه چې دولتي خدمتونه د هغوى له آدهار شمېرې سره تړلي دي. د ښوونځي د فيسونو په څېر، حکومتي مرسته له منځګړو بنسټونو پرته مستقيماً ټاکلو ګټه اخيستونکو ته لېږدول کيږي.

**له ګردښت څخه د کاغذي پيسو د بهر کېدو اړوند نا څاپي اقتصادي اقدامات**

